# چاپېریال ساتنه

د ګران هېواد افغانستان پلازمینې کابل، جلاباد، ځینې نورو ښارونو ته پام وکړو، هوا یې ګردجنه ده. دغه ګردجنه هوا د ټولو مېشتو وګړو په مخونو سرېښېږي، سترګې یې سوځي او لاسونه ککړوي.

د افغانستان د ښارونو د ککړتیا لاملونه عبارت دي له:

۱ - ډېر ګردجن سرکونه (خام سرکونه)

۲ - د زیاتو او خرابو موټرو موجودیت

۳ - د پلاستیکونو، سوي مبلاینو، ټیرونو او ډېزلو نه د سوخت لپاره ګټه اخیستنه، چې د شیانو سخت په ژمي زیاتېږي.

۴ - دغیر معیاري تېلو کارول.

۵ - د جنراتورونو څخه ګټه اخېستنه

۶ - د ډبرو سکرو او لرګیو کارول.

۷ - د ونو پرېکول، د شنو سیمو کمېدل او د کرنې له منځه تګ.

۸ - د نفوس زیاتوالی.

۸ – د خپلو کورونو خځلي او نور اضافي توکي په خلاصه ساحه کې غورځول.

۹ – د کابل او جلال اباد ښارونو په شاوخوا کې د خښتو د بټیو له امله زیات لوګي هوا ته پورته کېږي، چې هوا یې ککړه کړې ده.

۱۰ – د کابل ښار د کاسې په شان د غرونو په وسیله سره حصار شوی دی، چې دغه شاوخوا غرونه د دې لامل کېږي؛ تر ګرد او دود پرې نږدي، چې د کابل له ښاره ووځي.

حل لارې:

۱ - کوم تېل چې هېواد ته را وارېدېږي، هغه باید نړیوال معیار سره برابر وي.

۲ - د سوو موبلاینو، لرګیو، د ډبرو سکرو، پلاستیکونو او د ټېرونو د سوځولو نه مخنبوی، چې د دولت مسؤلیت دی.

۳ - کچه سرکونه او کوڅې باید ټولې پخې شي.

۴ - د ترافیکو له خوا زاړه موټرو د چلولو بندول.

۵ - د ښار سیمه باید پراخه شي.

۶ - د ونو کېنول او کرنې زیاتول.

چاپېریال ساتنه د اسلام له نظره:

الله جل جلاله د اسلام په رالېږلو سره هر اړخيز هدايات کړی چي يو له هغو څخه نظافت دی. په دې اړوند قرآنکريم، نبوي احاديثو، فقهي علماء وو د خپلو اجتهاداتو او کوښښنو په پايله کې هيڅ پټ څه پرې ايښي نه دي او د حسي، معنوي، حقيقي او حکمي نظافتونو اړوند يې پوره- پوره وضاحت کړی دی، همدغه راز د انسان د استعمالاتو په لحاظ، لکه: دبدن، جامې، ځای، چاپيريال او کورونو پاکوالی.

کوښښ دادی چي مسلمان بايد د تل لپاره پاکوالی د خپل ژوند مسير وګرځوي، په مادي اويا معنوي لحاظ نظافت او پاکوالی ترسره شي. د اسلام د دين غوښتنه د انسان په ژوندانه کې د هر انسان څخه داده، چي هر مسلمان بايد د پاکوالي لپاره نمونه او بېلګه وي. ترڅو يوه سوچه، پاکه، صفا او ښکلې ټولنه رامنځته شي. له هر ډول ناروغيو او کمزوريو څخه پاکه وي.

په دې اړوند حضرت پيغمبر عليه السلام فرمايي:

(إِنَّكُم قَادِمُونَ عَلَى إِخوَانِكُم، فَأَصلِحُوا رِحَالَكُم وَلِبَاسَكُم حَتَّى تَكُونُوا كَأَنَّكُم شَامَةً فِي النَّاسِ، فَإِنَّ اللهَ لا يُحِبُّ الفُحشَ وَلا التَّفَحُّشَ.) [سنن ابي داؤد، ۱۰۱/۴]

ژباړه: تاسو خپلوورونو ته راتلونکي ياست خپل لباس ښايسته کړئ، خپل د سفر اسباب منظم ترتيب کړئ، ترڅو تاسو په خلکو کې يوه نمونه جوړه سئ الله جل جلاله بدوالی، بې نظمي اوبدي خبري نه خوښوي.

او په بل ځای کې فرمايي:

(إِنَّ اللَّهَ طِيبٌ يُحِبُّ الطِّيبَ، نَظِيفٌ يُحِبُّ النَّظَافَةَ، كَرِيمٌ يُحِبُّ الكَرَمَ، جَوَادٌ يُحِبُّ الجُودَ، فَنَظِّفُوا بُيُوتَكُم، وَلا تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ الَّتِي تَجمَعُ الأَكنَافَ فِي دُورِهَا) [سنن الترمذی، ۱۱۱/۵]

ژباړه:الله ښايسته دی ښايسته والی خوښوي، پاک دی پاکوالی خوښوي، سخي دی سخاوت خوښوي، مهربانه دی مهرباني خوښوي،،خپل چاپيريال پاک وساتئ. ديهودوسره مشابهت مه کوئ؛ کوم چي کثافات اوچټلي په کورونوکی ټولوي او ساتي.

د چاپېريال په ساتلو کې هر فرد حق لري، چې تر خپله وسه پکې ونډه واخلي. د يوه لاس څخه ټک نه خېژي. نو پکار ده چې ولس له دولت او دولت له ولس سره همکار وا وسي. کوم مسؤليتونه چې دولت لري، بايد په ښه شان و شوقت يې پرمخ يوسي، همدا شان ولس هم. هر هغه څه چې فضا ککړوي که دولت دی او که ولس، بايد صرف نظر ترې وکړي.

د چاپېريال ساتلو په تړاو عامه پوهاوی ډېر ارزښت لري! يوازې دا د دولت او چاپېريال ساتنې مسؤلينو حق نه جوړېږي، بلکې دا د ټول مليت حق دی، چې د چاپېريال په ساتلو کې يو بل سره مرسته وکړي. دا د هر فرد حق جوړېږي، چې د چاپېريال ساتنې په اړه مالومات او پوهه ورکړي. هر انسان بايد يو بل ته د چاپېريال ساتنې په ارزښت، څرنګوالي، پاک ساتلو او نورو موضوعاتو بحث او مالومات ورکړي. تر هر څه اهمه خبره دا ده چې خلکو ته د چاپېريال ساتنې په تړاو عامه ذهن سازي وشي، هغوی ته بايد دا انګېزه ورکړو، هغوی کې بايد د چاپېريال ساتنې وژل شوی حېس ژوندی کړو، تر څو خلک د چاپېريال ساتنې په ارزښت، څرنګوالي، ګټو او تاوانونو اګاه شي.

د اقليم په بدلون سره له هغه اجناسو بايد ډډه وشي، چې د کور، کوټې او هوا د ککړتيا مسبب کېږي. د ژمي په موسم کې چې هوا ډېره يخه وي، د سون توکو ته اړتيا پيدا کېږي، چې د ګرم ساتلو سره سره د يو لړ

مرضونو باعث هم کېږي. دا ډول توکي باید بیخي ونه سوځول شي، د هغه پر ځای که برېښنا او یا ګاز استعمال شي ښه به وي.

که چېرې زموږ ستاسو د هستوګنې کور مخه او شاوخوا کې خځلې پرتې وي او هر ناکاره توکی، پلاستېکي کڅوړې، د جارو کړیو خونو خځلې، ایرې، د مېوو او ترکاریو پاتې شونې او پوټکي د خځلتون پر ځای پر لارو، کونجونو او ویالو کې واچوو، نو دا به زموږ د ټولې سیمې ارزښت راټیټ او د نورو سیمو اوسېدونکي به مو ناغېړه، ناپاک او د ټولنیزو ارزښتونو په نه پاملرنه تورن کړي. پر دې سربېره به یاد خلک زموږ د هستوګنې چاپېریال ککړتیا په لېدو سره یو منفي انځور له ځانه سره په خپل ذهن کې ثبت کړي او کله مو چې بل ځای ووینې، نو زموږ چاپېریال به ور په یاد شي او زموږ شخصیت به ډېر ټیټ تر پام ورشي او زموږ ټولنیز شخصیت په اړه به یې انځور ډېر تت او تیاره وي.

دا ځکه چې موږ د خپلې هستوګنې سیمه کې پاک ژوند نه دی کړی او د ټولنېزو ارزښتونو له ډلې مو د چاپېریال پاک ساتنې دود ته ځانګړې پاملرنه نه ده کړې، چې له امله یې د یوې بلې محلې اوسېدونکي انځور او برداشت زموږ په اړه منفي او ټولنېز شخصیت مو ورته ډېر ټیټ تر پام ورغلی.

که چېرې موږ خپل چاپېریال پاک وساتو او خځلې په خځلتون کې واچوو او ویالې، د سړکونو غاړې او لارې له خځلو پاکې کړو او د هر کور خاوند د خپل کور مخه په وخت سره پاکه کړي، نو دا به نه یوازې دا چې زموږ د ټولنېز ارزښت په پام کې نېول او هغو ته درناوی ثابت کړي، بلکې له برکته به یې زموږ ستاسو په چاپېریال کې هوا له بوی، ګردونو او میاشو او مچانو پاکه وي او ناروغۍ به په نشت حساب وي، ځکه په پاک چاپېریال کې اوسېدل نه یوازې دا چې ژوند په سهولت کې کوي بلکې له ګڼو ناروغیو موږ خوندي ساتي.

ماخذونه:

۱ ـ استاذ ډاډمن، محمد آغا، هېواد پالنه، کال ۱۳۹۷ ل م ص ۱۶۸ـ ۱۷۲.

۲ ـ ټاټوبی نیوز، د چاپېریال پاک ساتنې ټولنیز ارزښت ته څنګه پاملرنه وکړو، کال، ۱۲ دلو ۱۳۹۸.

۳ – شریعتي، پوهنیار محمد حاکم، د نظافت ارزښت د اسلام له نظره، کال، ۲۰۱۶ جولی ۱۱.